مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

د محمد ابراهیم شینواري لیکنه

۲۰۲۶/۰۵/۰۶

# د ثور اوومه، او اتمه: سببونه، نتیجې او درسونه

**لومړی برخه: لنډ معلومات**

آیا د ۱۳۵۷ کال د ثور اوومه (د ۱۹۷۸ د اپریل ۲۷) که د ۱۳۷۱ د ثور اتمه (د ۱۹۹۲ د اپریل ۲۸) د افغان تاریخ تر ټولو بدې ورځې دي، که پرتمین انقلابونه؟

دا ورځې د مربوطو ډلو له خوا د انقلاب په نوم یادیږي، او تر اوسه یې د مثبتو بدلونونو په توګه یادوي، خو د دوی مخالفین یې توري ورځې بولي.

د افغانستان په معاصره غميزه کې پر دې ورځو سربیره نورو ورځو هم مهم منفي اغیز لرلی دی، چې د دې دوه ورځو په شمول په ترتیب سره په لاندې ډول دي:

1) د ۱۳۵۲ کال سرطان ۲۶ (1973, July 17)
2) د ۱۳۵۷ کال د ثور اوومه (1978, April 27)
3) د ۱۳۵۸ کال د جدي ۶مه (1979, December 27) یا د ثور د بدلون نوې او تکاملي مرحله
4) د ۱۳۷۱ د ثور اتمه (1992, April 28)
5) د ۱۳۷۵د میزان ۶ مه (1996, September 27)
6) د ۱۳۸۰ دعقرب ۱۵ یا ، (October 7, 2001)
7) د ۱۴۰۰ کال د اسد ۲۴ (August 15, 2021).

لومړی څلور ورځې (د سرطان ۲۶مه، د ثور اوومه، اتمه او د جدي شپږمه) د بېلابېلو داخلي لوبغاړو (ډلو او شخصیتونو) له خوا رامنځ ته شوې، چې متفاوت نیتونه، فکرونه، شعارونه، ځانګړني او پلانونه یې لرل، خو بهرنی اساسي لوبغاړی یې شوروي اتحاد او د هغه ځای ناستي روسیه وه، چې خپل ټول دوستان یې په نیمه لار کې پریښودل او تر اوسه یې په افغانستان ضد سیاست او نیت کې مثبت ستراتیژیک بدلون نه دی راغلی.

**پرنسیپ**

موږ خپل نیت او د مربوطو ډلو او شخصیتونو خوښې یا ناخوښې په دې لیکنه کې په پام کې نه ده نیولې، بلکې په ملي سطحه مو د پېښو سببونو او نتیجو ته کتلي او درسونه مو ترې را ایستلي دي.

**د افغانستان د تېرو پنځو لسیزو د بحران سببونه**

**لومړی. داخلي سببونه**

**۱) د قدرت نیولو او بایللو دوراني بهیر**

د زیاترو ختیځو هېوادونو په شان د افغانستان په تاریخ کې هم د قدرت د انتقال مسیر ډېر ځله د ابن خلدون د «عصبیت» له تیورۍ سره سم انکشاف موندلی دی. هر کله چې یوه ټولنیزه ډله یا قشر د ځانګړې انګېزې، هدف او قوي داخلي انسجام په لرلو سره راپورته شوې، پر زوړ او فاسد نظام یې بری موندلی دی. خو واک ته تر رسېدو وروسته، دا ډله هم په تدریجي ډول له خپل اصلي ماموریت او ارزښتونو منحرفه شوې، رهبران یې فاسد، عیاش او له ولس څخه لېرې شوي، او د خلکو پر اوږو یې د مالیو، مکلفیتونو او نابرابریو فشار زیات کړی دی. په نتیجه کې ولس ناراضه شوی، یوه بله منسجمه ډله راپاڅېدلې، د زوړ شوي نظام ماڼۍ یې ړنګې کړي او سوځولي او د هغه په خاورو او ایرو یې د خپل نوي نظام ماڼۍ جوړه کړې ده.

په افغانستان کې د محمد نادر شاه له دورې د محمد ظاهرشاه تر پایه شاهي نظام او د محمد داود تر جمهوریته همداسي یو مسیر و، چې د نادرشاه د پیاوړي انسجام او نظم په برکت یې پنځوس کاله دوام وکړ. خو وروسته، د واک تمرکز، سست مدیریت، د اصلاحاتو کمزورتیا او موقع ته د منتظرو داخلي، سیمه ایزو او نړیوالو ځواکونو اعمال او مداخلې د دې سبب شوې چې نوی او کم تجربه نسل د بدلون غوښتنې پر محور منسجم شي، او دا نظام ړنګ کړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**۲) د ښار او کلي ترمنځ فرهنګي او اقتصادي توپير**

د محمد ظاهر شاه او محمد داود خان له خوا په ښارونو کې د کليوالو ځوانانو لپاره د زده کړو زمينه برابره شوه، خو دې نوښت له ځان سره يو ناورين هم درلود. کليوال ځوانان چې له خپلو محرومو کليو کابل ته راغلل، د ښار په محدودو سيمو (وزير اکبرخان مينه، نوي ښار، پروان کارته، دريمه کارته، او وروسته ميکروريان) کې يې پاک، ښکلی او نسبتاً مرفه ژوند وليد، چې د دوی له ژوند سره يې ژور توپير درلود. دا ژوند دوی ته جنت او د خپل کلي ژوند ورته دوزخ ښکاره شو او دې تضاد په دوی کې د محروميت او انتقام عقده رامنځته کړه. د سياسي خوځښتونو مشرانو وکولای شول له دغې عقدې څخه ناسمه استفاده وکړي، او همدغه نسل د دولت ضد فعاليتونو لپاره په افراطي روحيه منظم کړي.

**۳) د دولت تخنيکي او اقتصادي کمزوري**

افغانستان، چې د نړيوالو زبرځواکونو د رقابتونو په مينځ کې ايسار وو، هڅه يې وکړه بې‌طرفه پاليسي غوره کړي؛ خو دې پرېکړې تر زياته حده له نړيوالو مرستو بې‌برخې، او له انزوا سره مخ کړ. د دولت د تخنيکي وړتيا کمښت، د توليدي اقتصاد نه شتون، د وارداتو پر اقتصاد تکيه، او د اداري فساد پراختيا، د دې سبب شول چې د ځوان نسل هيلو ته مناسب ځواب ورنه‌کړای شي.

**۴) د بدلون  لپاره د نوي نسل غوښتنه**

په ټولنه کې د نوي نسل د فکري، کلتوري او مسلکي ودې غوښتنه، د زړو، فاسدو او بې‌کفايته جوړښتونو سره په ټکر کې شوه. د پوهې زياتېدا، د نړۍ سره اړيکو پراخېدا، او د يوه نوي افغانستان تصور، په ځوان نسل کې يو انقلابي روحي حالت رامنځته کړ، چې موجودو حاکميتونو يې نه د زغم توان درلود او نه يې ورته يوه معقوله د حل مجراء ميندلای شوه.

**۵) قومي، مذهبي او تنظيمي سيالۍ**

که څه هم د دې نسل مبارزه د نړيوال کارګري يووالي او نړيوال اسلامي اخوت په شعارونو پيل کړه، خو ټول د خپلو شعارونو په پلي کولو کې ناکام شول، نو مجبوراً يې قومي، سيمه ايزو او مذهبي سنګرونو ته سقوط وکړ. په دې ډول د سياسي ګوندونو تر منځ شديد ايډيالوژيک رقابت يوه منځني حد ته د تللو پر ځای تر هغه بدتر مخالفت ته لاړ، او د خلق، پرچم، جمعيت، حزب اسلامي، وحدت، اتحاد، جنبش او نورو ګوندونو له خوا د تنظيمي اجنداوو د وسيلو په توګه، د قومي او سيمه ييزو شعارونو کارول، د ملي يووالي پر خلاف يو خطرناک عامل ثابت شو.

**۶) د ثبات محور ړنګول**

په هره ټولنه کې ځينې قشرونه دي چې له دولت سره يې اتحاد د ثبات، او مخالفت د بې ثباتی سبب کيږي. په افغانستان کې ملايان يا روحاني مشران او ملکان او خانان يا قومي مشران له دولت سره د ملګرتيا په صورت کې د ثبات په محور بدلېدل. نوی تعليم يافته نسل د دې محور څلورمه ضلع کيدای شوه، خو نه دولت او نه روښانفکران دې مهم ټکي ته متوجه شول، چې د ثبات دغه مثلث ډوله محور په مربع بدل کړي او هېواد بحران ته ونه غورځوي. برعکس تر محمد ظاهر شاه وروسته رژيمونو د ثبات مثلثي محور متحد ونه شو ساتلی او ځکه يې ټولنيزو ټکرونو ته زمينه جوړه کړه.

**۷). د محمد داود د سياستونو بې‌ثباتي او انقلابونو ته لار خلاصول**

محمد داود د هېواد سره د ژورې مينې او مهمو خدمتونو له امله مشهور وو، خو د ده پريکړې زياتره، د داخلي سياسي ټکرونو او بې‌توازنۍ سبب کېدې. نوموړي د رايي ازادي نه شوه زغملی، سياسي مخالفين يې ځپل، او ځان باوری او خودرايه شخصيت يې درلود. له ملي، اسلامي او چپي ډلو سره په اړيکو کې بې‌توازنه چلند ډېر زيانمن واقع شو.

د بهرني سياست په برخه کې يې د پښتونستان داعيه له ستراتيژيک ليد پرته د احساساتو پر بنسټ تعقيبوله، او د شوروي اتحاد، سيمې، اسلامي نړۍ او لويديځ سره يې اړيکې نوساني او بې‌ثباته وې.

د ده بېړنيو او احساساتي پرېکړو د اعليحضرت محمد ظاهر شاه د څلوېښت کلن باثباته سلطنت او نوې ولسواکۍ ړنګېدو ته لار هواره کړه. د پرچم ګوند ته د زيات واک ورکولو او په استخباراتي ادارو کې د هغوی د نفوذ زياتېدو سره يې د شوروي اتحاد د لا زياتې لاسوهنې زمينه برابره کړه. همدارا ز، له اسلامي او ملي حرکتونو (جوانان مسلمان او ميوند وال) سره د ټکر له امله يې سياسي موازنه له لاسه ورکړه.

محمد داود د شوروي په بد نيت ډېر ناوخته پوه شو، خو بيا يې هم په بېړه د سياست لوری بدل کړ او غربي بلاک او د هغه عربي او سيمه ايزو متحدينو ته ورنږدې شو. شوروي اتحاد، چې مخکې له مخکې د افغانستان د کنټرول لپاره بديلونه چمتو کړي وو، د محمد داود د کمزوري کيدو لپاره يې د خلق او پرچم ډلې سره يو ځای کړې: د ځينو شواهدو له مخې يې لومړی د ببرک کارمل او نور احمد نور له خوا د ميراکبر خيبر د وژلو په بهانه له نظام سره د خلق ګوند ښکاره مخالفت او بيا د خلق ګوند له لارې کودتا ته زمينه برابره کړه. داسې ښکاري چې شوروي اتحاد غوښتل له


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

خلقیانو موقتي استفاده وکړي، او پرچم یې اصلي شریک ګاڼه. همدا راز یې د وروستي بدیل په توګه د ستم ملي ډلې جوړه کړه چې د اړتیاو پر مهال د شمال د کنټرول لپاره یې وکاروي.
محمد داود، چې همیشه احساساتي غبرګون ښوده، د ګوند مشران ونیول، خو د خلقیانو د نظامي څانګې مشر حفیظ الله امین تري پاتې شو. همدې کار د ۱۳۵۷ کال د ثور کودتا ته لار هواره کړه، چې خلق دموکراتیک ګوند یې انقلاب بولي.

**دوهم. سیمه‌ییز او نړیوال سببونه (۴)**

**۱) د افغانستان جیوپولیتیک (سیاسي – جغرافیوي) موقعیت او نړیواله انزوا**

تر دویم نړیوال جنګ وروسته، غرب د خپلو ستراتیژیکو ګټو لپاره پاکستان جوړ کړ، او د انګریزانو له خوا بیله شوي نیمه افغان خاوره یې دغه نوي جوړ شوي دولت ته وسپارله. پاکستان د انګریز د میراث خور په توګه، د منځنۍ او جنوبي اسیا په ټوله سني مذهبه سیمه د قدرت اجندا لرله، او افغانستان یې په دې لار کې خپل نږدې سیال ګڼلو. خو دا چې افغانستان د بې طرفي سیاست غوره کړ، او پاکستان د غرب په نظامي تړونونو کې شامل شو، افغانستان د نړیوالو سیاستونو په انزوا کې پاتې شو، او یوازې شوروي اتحاد ته پرېښودل شو.

**۲) د کوزو پښتنو محکوم پاتې کېدل**

د انګلیسانو د وتلو، او لوی هند د تجزیې سره سره کوزو پښتنو ته د خپلواکۍ نه ورکول، د نورو محرومیتونو سره، افغان ځوان نسل ته د یو بل تاریخي درد سبب شو. پاکستان د پښتنو ملتپال احساسات په بې‌رحمۍ وځپل، او غرب پر دې ظلم سترګې پټې کړې. له پاکستان سره د لویدیځ پریمانه ملاتړ تر زیاته بریده د دې سبب شو چې افغان دولت شوروي اتحاد ته نږدې شي.

**۳) د شوروي اتحاد نفوذ اوږدمهاله پالیسي**

داسي ګڼل کېږي چې د هند سمندر ته د شوروي اتحاد د رسیدلو سیاست، د تزاري روسیې د مشر لوی پطر او بلشویک مشر لینن د لرغونو ارمانونو دوام و. منزوي او بې‌وسه افغانستان دوی ته د دغه ارمان پر لور تر ټولو اسانه لاره ښکاره شوه. شوروي دغه هدف ته د رسېدو لپاره له "مرستې" او "ملګرتیا" پیل وکړ، خو پر دوستۍ قانع نه وو، د ځوانو ملکي او نظامي کادرونو د روزنې، د بشري مرستو سیاسي کولو، او د سیاسي نفوذ پیاوړتیا له لارې شوروي د افغانستان د خپلواک تصمیم نیولو توان کمزوری کړ او حتی په ځینو برخو کې یې له منځه یوړ. شوروي اتحاد د خپلو افغان متحدینو (محمد ظاهر شاه، محمد داود، نور محمد تره کی، حفیظ الله امین، او نجیب الله) ټولو سره بې وفایي وکړه، او سره له دې چې د دې یوه له خوا هم د شوروي پر خلاف کوم کار او پلان نه وو تر سره شوی، د هر یوه پر ضد یې اقدام وکړ او بالاخره یې په مظلوم خو سرلوړي افغانستان پوځی یرغل وکړ.

**۴) د وخت نړیواله انقلابي فضا**

د دویمې نړیوالې جګړې وروسته، د دریمې نړۍ په هېوادونو کې استعمارضد انقلابي افکارو څپه راپورته شوه. په افریقا، آسیا او لاتینه امریکا کې د شوروي له لورې ملاتړ کېدونکو حرکتونو، د سرمایه‌دارۍ ضد غږونو، او کمونیزم ته د نجات په سترګه کتل کېدل، او همدې باور عمومي فضا جوړه کړې وه. افغانستان هم د دې نړیوال جریان یوه برخه وګرځېده.
په نتیجه کې ویلای شو چې د ټولنیزو پیښو او بدلونونو سببونه یوازې یوه ځانګړې پیښه، شخصیت، ډله یا ګروپ نه، بلکې بدلونونه د کورنیو او بهرنیو ټولنیزو، سیاسي، نظامي، اقتصادي، فرهنګي او طبیعي عواملو د عمل او عکس‌العمل د پېچلو اړیکو پر بنسټ رامنځ کېږي. البته مهم اشخاص او ډلې د بدلون د بهیر په چټکولو یا ورو کولو کې برخه لري.

**د ارزونې معیارونه**

د دې لپاره چې د هرې دورې کړنې او نتیجې د یو شان معیارونو په رڼا کې وارزول شي، دا به ښه وي چې هره دوره د ملي ګټو د لاندې تصنیف له مخې وارزول شي:
**امنیتي ملي ګټې:** د هېواد بقا او امنیت، د خاورې بشپړتیا، خپلواکي او ملي حاکمیت، د پوځي وړتیا لوړول، د خپلو اتباعو ساتنه.
**سیاسي ملي ګټې:** حکومتداري او سیاسي ثبات، اتحادونه او ډیپلوماتیکې اړیکې، د قانون حاکمیت، په نړیوالو سازمانونو کې نفوذ، د انرژۍ او منابعو مدیریت.
**اقتصادي ملي ګټې:** اقتصادي ثبات او وده، تجارت او مارکیټ پراخول، تخنیکي پرمختګ او نوښت.
**ټولنیزې او فرهنګي ملي ګټې:** د ارزښتونو، هویت او فرهنګ ساتل، ټولنیز انسجام، عدالت، هوساینه، بشري حقوق، د پوهنې او مهارتونو لوړل، او چاپېریال ساتنه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**دوهمه برخه: د ثور اوومه او د جدي شپږمه:**
**د ۱۳۵۷ کال د ثور اوومه (1978, April 27) او د ۱۳۵۸ کال د جدي ۶مه (1979, December 27) یا د ثور د بدلون نوې او تکاملي مرحله**

لومړۍ ورځ یعنې د ثور اوومه د بین الافغاني جګړې پیلامه شوه. د جوانان مسلمان ډلې غړي له محمد داود سره تر ټکر وروسته د پاکستان حکومت تر کنټرول لاندې پښتونستان ته لا پخوا تللي، او په چریکي جګړو کې روزل شوي وو. دغو ځوانانو د محمد داود د حکومت پر خلاف په کونړ، لغمان، ننګرهار، پکتیا، پنجشیر او نورو سیمو کې نظامي عملیات کړي وو او د چریکي جګړو یو څه تجربه یې تر لاسه کړې وه. دوی د ثور تر بدلون وروسته په بېړه خپل ګروپونه افغانستان ته راولېږل، او د ۱۳۵۷ کال په جوزا میاشت کې د پکتیکا ولایت په زیږوک کې د سمبولیک ډز په کولو سره یې په افغانستان کې نظامي مخالفت او د دوی په وینا د کمونیستي مفکورې په خلاف جهاد پیل کړ. دوی ډېر ژر د کونړ ولایت په شیګل او نورو سیمو کې په وسله والو جګړو پیل وکړ، او د لومړي بري په توګه یې د اسمار غرنی غونډ ونیو چې زیاتې وسلې او نظامي مهمات پکې وو. دا وسلې د افغانستان د زیاترو سیمو اسلامي جنګیالیو ته ولېږل شوې.

له دې سره سم، ډېر ژر د خلق دموکراتیک ګوند په منځ کې د واک پر سر شخړې پیل او راڅرګندې شوې. د ببرک کارمل په مشرۍ د پرچم ډلې د واک نیولو د کودتاګانو هڅې افشا او ناکامې شوې. د رهبري مهم کادرونه یې د سفیرانو په توګه بهر ته ولېږل شول او ځینې پاتې کادرونه یې بندیان شول. په دې پېښو پسې متصل د خلق د څانګې نظامی مشران (د اګسا مشر اسدالله سروري، دفاع وزیر محمد اسلام وطنجار، د کورنیو چارو وزیر شیرجان مزدوریار او د مخابراتو وزیر سید محمد ګلابزوی) د حفیظ الله امین په خلاف له شوروي استخباراتو سره په پټو معاملو بوخت شول. نورمحمد ترکي هم د نظامیانو پلوي وکړه او پر حفیظ الله امین یې ناکام برید وکړ، چې د امین په متقابل برید کې یادو نظامي مشرانو ځانونه پټ کړل او تره کی ونیول شو. له څلورو څخه درې تنه یاد نظامیان وروسته د شوروي سفارت له خوا په مرموز ډول دغه هېواد ته بوتلل شول. د ترکي پاتې نظامي ملګرو د خپل رهبر د نجات لپاره دوه نظامي اقدامونه وکړل، خو ناکام شول. څه موده وروسته د شوروي په مشوره او اجازه د حفیظ الله امین په امر نورمحمد تره کی ووژل شو.

د خلقي حکومت پر خلاف چې له داخله زیات شړیدلی وو، ټول پرچمیان او د خلقیانو اکثریت چې د خپل لومړي مشر نور محمد ترکي پلویان وو، ناراضه وو. د مجاهدینو حملې هم ورځ په ورځ زیاتېدې او ولس هم مضطرب او وارخطا وو. په دې وخت کې شوروي له حفیظ الله امین څخه په دې بهانه د نظامي الوتکو د یو مسلسل کاروان د راتګ هوکی واخیسته چې ګوندې د ده د بیا بیا غوښتنې له مخې حکومت ته نظامي تجهیزات او وسلې راوړي. خو د ۱۳۵۸ کال د جدي په ۶مه شپه شوروي عسکرو، چې په نوموړو الوتکو کې راغلي او د افغاني اردو لباسونه یې اغوستي وو، د حفیظ الله امین پر کور یرغل وکړ او هغه د یو څه مقاومت وروسته له خپلو دوه زامنو (عبدالرحمن امین، خوازک امین)، لوی درستیز (محمد یعقوب)، او د ده د کورنۍ د غړو په وینا د یو نیم سلو تر دوه سوه ساتونکو سره پخپل استوګنځای کې ووژل شول او دوه لونې یې ټپیانې شوې. ورور یې عبدالله امین، وراره یې د کام مشر اسدالله امین او د ډلې څو تنه نور مهم مشران ملګري یې څه موده وروسته اعدام شول. د ولسمشر امین د ساتنیز ګارد سربېره د مرکزي قول اردو له قوماندان محمد دوست او څو تنو نورو خلقیانو هم د شوروي یرغل په وړاندې یو څه مقاومت وکړ، خو عام مقاومت ونه شو، ځکه زیاترو خلقیانو ته ګلابزوی، سروري او وطنجار خبر ورکړی وو، چې دوی له شورویانو سره د ترکي د انتقام لپاره راغلي او خلقیان دې مقاومت نه کوي.

د ازبیکستان د شوروي سوسیالستي جمهوریت له پلازمېنې، تاشکند رادیو څخه، په چکوسلواکیا کې له افغان سفارت څخه تللي ببرک کارمل دا وینا خپره شوه، چې د امریکا د سی آی ای استازی حفیظ الله امین ووژل شو او د انقلاب نوې او تکاملي مرحله پیل شوه.

د ثور انقلاب په نوې او تکاملي مرحله کې ببرک کارمل د ګوند او دولت مشر شو، سلطان علي کشتمند صدراعظم، او محمد رفیع د دفاع وزیر شو. خلقیانو ته چې د انقلاب اصلي عاملین او د ګوند ستر اکثریت وو، دویمه درجه رول ورکړل شو. شوروي مشرانو او کارمل – کشتمند د خلقیانو په اړه داسې پالیسي غوره کړه، چې دوی ورو ورو نظامي برخې ته سوق کړي، له مجاهدینو او ملت سره یې وجنګوي چې پخپله هم ووژل شي او د کارمل او شوروي اتحاد دښمنان (افغانان) هم ووژني. د ډاکتر نجیب الله د وخت د دفاع یو وزیر شهنواز په دې دوره کې خلقیان جنګي اسیرانو ته ورته بللي دي.

په دې ډول د ثور انقلاب نوی او تکاملي یا دوهمه دوره، د بهرني یرغل د اجیرو جنګیالیو د حکومت په توګه پیل شوه چې ملت هم ورسره شدیدې مقابلې ته راودانګل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

غربي نړۍ او د هغې سیمه ایزو متحدانو ته بهترین فرصت پیدا شو چې د شوروي اتحاد د پرمختګ مخه همدلته په افغانستان کې ونیسي او داسي يې پر شا وتمبوي، چې له زبرځواکۍ راوغورځېږي. امریکا په ځانګړي ډول دا یو بهترین فرصت وګاڼه چې له شوروي اتحاد څخه د ویتنام په جګړه کې د خپلې ماتې انتقام واخلي. د امریکا ولسمشر رونالد ریګان چې یو فوق العاده باجرآته رهبر وو، واتیکان ته ولاړ؛ له پاپ څخه يې دعا واخیسته او وعده يې وکړه چې بې دینه کمونیزم به داسي له منځه یوسي، چې د عیسوي انسان یو ځاځکې وینه هم پکې توی نه شي.
تر دې وروسته د شوروي یرغل پرخلاف لوی نړیوال ایتلاف جوړ شو: امریکا د وسلو، پیسو او نړیوالې ډیپلوماسۍ مشرۍ، سعودي عربستان د مالي ملاتړ، مصر، چین او نورو عربي، اسلامي او غربي هېوادونو هر یوه د یو څه وسلو، مالي، لوژستیکي او بشري مرستو په برخه کې مسؤلیتونه ومنل. د سعودي ستر مفتی بن باز په افغانستان کې د شوروي اتحاد د یرغلګرو لښکر پر خلاف د جهاد رسمي فتوا ورکړه. د نړیوالو اسلامي سازمانونو غړو چې په جهادي مفکورو سمبال وو، افغانستان، خپل تصور شوي جنت ته د تللو نغذ او نږدې ځای وموند او په شوق او منډه يې ځانونه راورسول. پاکستان ته د افغان جهاد لوژستیکي مدیریت دنده ورکړل شوه.
د افغانستان دولت له سترې ستونزې سره مخ وو: له یوې خوا د شوروي اشغال د خلق ګوند د زیاترو غړو په ځانګړي ډول خلقیانو هم نه خوښېده، ځکه دوی په خپل کور کې دویمي رول ته سوق شوي وو، له بلې خوا په هر کلي او کوڅه کې د ملت نه کنټرولېدونکی مقاومت پیل شوی وو. ګوند پخپلو داخلي سختو اختلافونو کې هم ښتی وو. دوی تر وروستي بریده جګړې، مقاومت، بندي کولو، شکنجه کولو، وژلو، بمبارد، ورانولو او تباهۍ ته دوام ورکړ، خو د بل لوري مقاومت ماتېده نه، بلکې ورځ په ورځ زیاتېده. مجاهدینو هم په همدې ډول تر وروستي افغانه جنګ ته تیاری ښوده او مولوي خالص وروستي شوروي مشر ګورباچوف ته لیکلي وو چې تر وروستي افغانه ورسره جنګیږي او د حفیظ الله امین په شمول د هر افغان د وینې حساب ورسره کوي. په دې ډول مجاهدینو د سولې او روغې ـ جوړې ټولې غوښتنې رد کړې.
په نتیجه کې شوروي له افغان خاورې وتلو ته اړ کړل شو، خو د افغانانو کور وران شو، یو نیم میلیون وګړي يې شهیدان شول، اتیا سلنه کلي ویجاړ شول، ښارونه، تاسیسات، نظام او اردو يې وپاشل شول او د ځینو شمیرنو له مخې تر ۶۰۰ بیلیونه مالي تاوان وروړسید. شوروي اتحاد، زموږ له هېواده تر وتلو وروسته، که څه هم په اروپا او نوره نړۍ کې کم نفوذه شو، ۱۴ شوروي سوسیالستي جمهوریتونه ترې بیل، په روسیه کې راټول شو، او له زبرځواکۍ راوغورځېده، خو د یو ستر نظامي قوت په توګه لا هم پاتې شو. پاکستان هم ګټه وکړه، د افغان مهاجرینو او مجاهدینو په نوم د مرستو او وسلو لویه برخه يې ځان ته بېلوله، د اټومي بم خاوند شو او د شوروي له محتمل یرغل څخه د افغانانو په وینو او قربانیو بچ شو. خو اصلي ګټه امریکا وکړه، سره له دې چې د یو فرد یو ځاځکې وینه يې توی نه شوه، خو د نړۍ یوازنی او یکه تاز زبرځواک شو.
اوس د خلق دموکراتیک ګوند د دواړو څانګو زیاتره غړي وايي چې پخپلو کړنو پښیمانه ندي، بلکې پرې ویاړي. د دوی په وینا دوی په ښه نیت او پاکه اراده غوښتل ملت ته خدمت وکړي او هېواد ته ترقي او پرمختګ راولي. دوی دا هم وايي چې داخلي مخالفینو چې دوی ورته ارتجاعي عناصر ویل، سیمه ایزو هېوادونو او غربي نړۍ یا د دوی په وینا امپریالیزم پرې نه ښودل چې هغه خدمتونه ټول تر سره کړي، چې دوی يې هېواد او خلکو ته د کولو هوډ درلود.
زیاتره خلقیان د غریبو او بې وزلو کورنیو نوي تعلیم یافته شوي ځوانان وو، چې فساد او رشوت يې نه کاوه، په شدت يې کار کاوه، ساده او غریبانه ژوند يې درلوده، خو د دوی په وینا د خپل انقلاب مخالف شخص ژوند ورته دوه توته ارزښته نه درلوده. دوی هیڅ ډول مخالفت نه شو زغملی او په دښمنۍ کې افراطي وو، خپل مشر يې واجب الاحترام او معصوم ګاڼه، او فکر يې کاوه چې که څوک وطندوست او صادق وي، باید خلقي وي، او که خلقي نه وي، د وطندوستۍ ادعا يې سمه نه ده.
پرچمیان زیاتره د منځینو ښاري او نیمه ښاري کورنیو ځوانان وو، چې مؤدب او د یو څه مطالعې خاوندان ښکاریدل. دوی خلقیان قبیلوي ګڼل او هغه څوک يې کمونستان نه شو منلی چې کارمل او لینن ورته تقدس ونه لري. پرچمیانو هم افراطي مالي فساد نه کاوه او رشوت يې نه اخسته، خو کابلیانو به په ټوکو ویل چې زیاتره پرچمیان ځانونو ته د یو بوتل ودکا او یو رنګه تلویزیون پیسې برابروي. په دوی کې له زیاترو سره قومي او سیمه ییزه عقده هم موجوده وه، چې وروسته د هېواد او نظام د انفجار سبب شوه. پرچمیان تر خلقیانو ډېر کم وو، خو د قدرت اصلي محور د دوی په لاس کې وو. دوی به په خوښۍ ویل چې نیکمرغه دي چې له مجاهدینو يې خلقیان، او له خلقیانو يې شورویان ساتي.
مجاهدین هم دغسې فکر کوي. دوی وايي چې د الله د رضا او د هغه د کلمې د لوړولو لپاره يې جهاد کړی، د شوروي اشغال مخه يې نیولې او هېواد يې ازاد کړی دی. د دې بري لپاره يې په لکونو او میلیونو قربانۍ ورکړي دي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مهاجرتونه، زندانونه او ولږې تندې يې ګاللي دي، او د شوروي له شره يې نه يوازې افغانستان بلکې ټوله نړۍ خلاصه کړې ده. د دوی زياتره غړي وايي چې د نوييمو کلونو اشتباوې! د دوی د سترو قربانيو په وړاندې ورې دي.
اوس دا نه تلل کېږي چې د خلق دموکراتيک ګوند غړو او مجاهدينو نيتونه څومره ښه وو، خو که مثبت فکر وکړو او دا وګڼو چې د دوی ټولو نيتونه په رښتيا هم ښه وو او قصداً يې د هېواد او هيواوالو بد نه غوښتل، بلکې په نړيوالو لوبو کې راګير شول او په غير ارادي ډول د هېواد د ورانی او تباهی سبب شول. خو په ټولنيزو او سياسي عملونو کې نيت نه حسابيدای او نه تلل کيدای شي. يوازنی څه چې تاريخ پرې قضاوت کوي هغه د اعمالو نتيجې دي. که دغو نتيجو خلکو، ولس او هېواد ته ګټه کړې وي، مثبتې او که زيان يې رسولی وي، منفي ګڼل کېږي.
اوس تر ټولو مهمه خبره دا ده چې څنګه له دغو تجربو او اعمالو او په هغوی د مرتب شوو نتيجو څخه درس واخلو، چې په راتلونکي کې يې له تکراره ځان او هېواد وساتو. زموږ نوی نسل بايد په پوره حوصله او زغم د تېرو پنځه لسېزو پېښې په مفصل ډول وڅېړي، نړيوال، سيمه ايز، ملي او محلي بعدونه يې رابرسېره کړي، سببونه، مرستندويه فکټورونه، او د هماغه وخت د سيمې او نړۍ سياسي مسير او ډايناميک تحليل او تجزيه کړي. د ټولو په نتيجه کې داسې درسونه او وړانديزونه ترتيب کړي، چې راتلونکي سياسي مشران، فعالين او کادرونه ترې مثبته استفاده وکړي او د اشتباهاتو له تکراره ځان، ملت او هېواد وژغوري.
په لاندې جدولونو کې موږ د خلق دموکراتيک ګوند د واکمنۍ د کلونو کړنې، د ملي ګټو په معيار ارزولي دي:

**د ملي ګټو په رڼا کې د ثور د اوومې او جدي شپږمې د نتيجو ارزونه:**

**(د ۱۳۵۷ ثور له اوومې د ۱۳۵۸ جدي تر شپږمې (۲۰ مياشتې) دوره).**

**امنيتي ملي ګټې**

- امنيت خراب شو. لږ تر لږه په څو ولايتونو کې ګرمه جګړه پيل شوه.
- د خاورې بشپړتيا ساتل شوې وه، او هېواد عملاً خپلواک وو.
- ملي حاکميت د کمزورۍ پر لور روان وو.
- د اتباعو ژوند په خطر کې وو. بې اسنادو نيول او بې محاکمې وژنې پيل شوې. د دولس زره اعدام شوو کسانو لست، او د کونړ په کراله، هرات ښار او ځينو نورو سيمو کې ډله ايزې وژنې يې څرګندې بيلګې دي.
- د انرژۍ او منابعو دساتنې او استفادې پلانونه جوړ شول، خو عملي نه شول.
- د پوځي وړتيا د لوړولو هڅې پيل شوې، خو د شوروي په شمول ورسره لازمه مرسته ونه شوه.

**سياسي ملي ګټې**

- ډيپلوماتيکې اړيکې يوازې سوسيالستي بلاک ته منحصرې شوې.
- د فساد سره په مبارزه کې قانون پلی شو، خو د خلکو د حقوقو او ازاديو په برخه کې نه.
- يوازې د شوروي اتحاد په مرستو تکيه وشوه.
- د سياسي ډلو تر منځ اختلاف اوج ته ورسيد. د خلق ګوند دوه څانګې ببرته منشعبې شوې. د خلق په څانګه کې شديد اختلافونه راغلل چې د مشرانو په مرګ يې منجر او يوه ډله يې شوروي ته لاړل او د پخوانۍ تللې ډلې پرچم سره د خپل حکومت د سقوط لپاره ملګري شول.
- منابع تر زياته حده وساتل شوې.
- نړيوال نفوذ د کمزوري لور ته تګ پيل کړ.

**اقتصادي ملي ګټې**

- يو څه اقتصادي پرمختګ رامنځ ته شو.
- تجارت او مارکيټ انحصاري دولتي لور ته روان شو.
- د تخنيکي پرمختګ پلانونه جوړ شول.

**ټولنيزې او فرهنګي ملي ګټې**

- له ديني او کلتوري ارزښتونو سره ټکر وشو.
- د ملا، ملک، دولت او ښوونځي فارغ تر منځ د اتحاد سيستم د ويجاړيدو پر لور روان شو.
- د ښځو او اقليتونو حقوق يو څه بارز شول.
- د هوساينې پلانونه جوړ شول. بزګرانو ته ځمکې، له سود او ګروۍ د خلکو نجات او د رشوت له منځه تلل مثبت اړخونه وو.
- د نظر، بيان، غونډو، ډلو او ګوندونو جوړول بند شول.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

- پوهنې ته ځانګړې توجه وشوه. کانکور وهلې بېرته ښوونځیو کې شامل شول. د ښوونځیو زیات شمیر فارغان دننه او سوسیالستي هېوادونو ته د لوړو زده کړو ته معرفي شول. د مهارتونو لوړلو پلانونه جوړ شول.
- د چاپیریال ساتنې په برخه کې کوم مثبت یا منفي کار ونه شو.

**د ملي ګټو له مخې د ۱۳۵۸ جدي له شپږمې د ۱۳۷۱ ثور تر اتمې (۱۳ کاله او ۴ میاشتې) دورې ارزونه:**

**امنیتي ملي ګټې**

- هېواد د شوروي ځواکونو له خوا اشغال شو.
- د هېواد بقا له خطر سره مخ شوه.
- د هېواد خپلواکي سلب شوه.
- د اتباعو ژوند او ازادي لا زیاته زیامنه شوه. د تېر نظام بندیان خوشې شول، خو نوي حریفان او مخالفین په دوامدار ډول زندانونو ته اچول پیل شول.
- تر سل زرو کسان اعدام شول.
- یونیم میلیون عام افغانان په جګړو کې ووژل شول او ۵ میلیونه ټپیان شول.
- د منابعو ساتنه او امنیت زیات کمزوری شو، محلي قوماندانانو او سوداګرو ته یې د پلورلو زمینه برابره شوه.
- اتیا فیصده کلي وران شول.
- ۵ میلیونه افغانان مهاجر شول.
- نظامي او استخباراتي ورتیا ډېره زیاته شوه، همداراز خپل سره ملیشې جوړې شوې.
- داخلي کودتاګانې هم وشوې چې پر نجیب د کارمل د ملګرو کودتا بریالی او د خلق څانګې د کودتا هڅې تر پیلېدو مخکې خنثې شوې.

**سیاسي ملي ګټې**

- پر شوروي او کمونستي بلاک تکیه لا زیاته شوه.
- هر کال ملګرو ملتونو په قاطع اکثریت شوروي یرغل وغنده، او د افغانستان اشغال پای ته رسول یې وغوښتل.
- د قانون د حاکمیت تمثیل وشو، خو نیونې او وژنې، بمبارد او جګړې ټول هېواد ته خپرې شوې.
- یوازې په شوروي مرستو تکیه وشوه چې د هغه پر اساس سوونو زرو حکومتي کارکوونکو ته لومړني خوراکي توکي برابریدل. په ځینو برخو کې یو څه انکشافي کارونه هم کېدل.
- د ملت سره د نه سازش په څنګ کې د خلق و پرچم اختلاف هماغسې ژور او نه رغېدونکی پاتې شو. د دې تر څنګ د پرچم په څانګه کې هم بیلتون راغی. د دې دوه څانګو او د هغوی داخلي اختلاف تر هغه دوام وکړ، چې د دواړو ډلو مشران خپلو شدیدترینو دښمنانو ته تسلیم شول، خو پخپلو کې جوړ نه شول.
- ملي منابع زیاتره چور شوې.
- نړیوال نفوذ یوازې پر سوسیالستي بلاک په تکیې پورې محدود شو
- افغان دولت په زیاترو نړیوالو فورمونو کې تر انتقاد لاندې وو.

**اقتصادي ملي ګټې**

- اقتصادي خپلواکي او وده نه وه. ټوله توجه جګړې ته وه.
- تجارت او مارکیت د پخوا په شان په شوروي تکیه وو.
- ځانګړی پرمختګ او نوښت ونه شو. تشریفاتي او ظاهري کارونه کېدل.
- د کلیو په ورانیدو د اوبو کانالونه، کاریزونه او چینې وچې شوې. باغونه او کروندې ورانې شوې او پراخې سیمې شاړې شوې.
- د نړیوال بانک د راپورونو له مخې په دې دوره کې هېواد ته تر ۶۰۰ بیلیونه ډالر زیات اوښتی دی.

**ټولنیزې او فرهنګي ملي ګټې**

- له دیني او کلتوري ارزښتونو سره د ټکر د کمیدو کوشش وشو، خو د شوروي پوځونو موجودیت دا هڅې نتیجې ته نه پرېښودې.
- پلاروطنه جبهه جوړه شوه، چې ملت راټول کړي، خو قاطع اکثریت ملت د اشغال او په نامه لاسپوڅې حکومت خلاف شول او جبهې ګډه ونکړه.
- د اقلیت او اکثریت شعارونه رااوچت شول، او د قومي ژبنیو او مذهبي تعصبونو له لارې د ټولنیز انسجام تباهي پیل شوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولۍ

- بشري حقوق او هوساینه په ښارونو کې محدودو ګروپونو ته تمثلیده، خو ملت د فکر، بیان، ډلي جوړولو، سیاسي فعالیت ازادي نه درلوده. په وروستیو درې کلونو کې په دې برخه کې کوښښ وشو خو حقیقي نتیجه یې ورنکړه.
- پوهنې او لوړو زده کړو ته توجه وشوه، خو ځانګړې سیمې ځوانان قصداً له لوړو زده کړو محرومېدې. مثلا د ګرم سیرو سیمو د دولسمو ټولګیو فارغان به مستقیماً عسکري خدمت ته لېږل او سرد سیرو ته به زیاتره د لوړو زده کړو چانس ورکول کېده.
- د نجونو زده کړو او د ښځو مشارکت په ښارونو کې وده وکړه. په عمومي ډول تعلیمي بنسټونه پراخ شول.
- د شوروي پوځونو په ټنونو استعمال شوو باروتو چاپېریال ککړ کړ.

**دریيمه برخه: د ثور اتمه (د ۱۳۷۱ د ثور له اتمې د ۱۳۷۵ د میزان تر ۶ مې پورې).**

د افغانستان جګړې شوروي اتحاد هغه ډول کمزوری کړ، لکه غربي مفکرینو چې یې وړاندوینه کړې وه. شوروي هم پر خپل سقوط ژر پوه شو او پټ یې له امریکایانو وغوښتل چې له افغانستانه په ابرومند وتلو کې ورسره مرسته وکړي، خو منفي ځواب یې تر لاسه کړ.

د افغانستان تر اشغال وروسته موده کې د شوروي ځلورم مشر ګورباچوف د خپل واک په لومړیو کې متوجه شو چې شوروي اتحاد له اقتصادي سقوط په درشل کې دی، او افغان جګړه یې د هغه یو مهم عامل او په ولادي واسټوک کې په خپله مشهوره وینا کې خونړی ټپ وګاڼه. وروسته یې خپل افغان متحدین وروغوښتل او ورته ویې ویل چې غواړي خپل پوځونه له افغانستان وباسي. ببرک کارمل شدید مخالفت وکړ او خبرداری یې ورکړ چې که دا کار وشي، شوروي به بېرته د لس چنده زیاتو عسکرو لېږلو ته اړ شي. خو نجیب الل وویل چې که شورویان افغان دولت ته نظامي او اقتصادي مرستې برابروي، افغانان حاضر دي، په عزتمند ډول له افغانستان څخه د شوروي ځواکونو د وتلو په بهیر کې مرسته وکړي. همدا وو چې ډېر ژر د شوروي په فرمایش د خلق دموکراتیک ګوند اتلسم پلینوم (تر ټولو لویې غونډې) ببرک کارمل له مشرۍ لېرې او نجیب الله یې عمومي منشي کړ.

نجیب الله د ګورباچوف د پریسترویکا (بیا رغاونې) او ګلاسنوست (روڼتیا) پروګرامونو په تعقیب د ملي روغې جوړې سیاست اعلان کړ. له دې سره سم د ملګرو ملتونو د سولې پنځه فقره ییز پلان جوړ او عملي کېدل یې پیل شول. شوروي او امریکا په ژنیو کې افغانستان او پاکستان تر منځ لاسلیک شوی قرارداد تضمین کړ او شوروي ځواکونو وتلو ته یې زمینه جوړه کړه. دلته په هېواد او سیمه کې د نجیب الله د ملي روغې ـ جوړې او ملګرو ملتونو د سولې پلان جریان درلوده او په سوله ایز ډول یې بې طرفه حکومت ته د واک لېږدولو ښه فرصت وو.

په لومړیو کې نجیب الله غوښتل د مجاهدینو ځینې ډلې له ده سره ملګري او شریک حکومت ورسره جوړ کړي، خو بریالی نه شو. وروسته حاضر شو، محمد ظاهر شاه ته په داسې ډول هېواد مشري وروسپاري، چې د نظام اجرایي برخه د ده له ګوند سره پاتې شي، خو ظاهرشاه دې توافق ته حاضر نه شو. تر هغه وروسته یې د مجاهدینو له نورو مشرانو سره دغه ډول مذاکرې وکړې، خو مجاهدینو ځکه ورسره ونه منله چې د نجیب الله اردو ټوله له یوې ډلې او مفکورې جوړه وه، او د ایتلافي حکومت په صورت کې هره شیبه د ټکر او د مجاهدینو د بېرته ایستلو خطر موجود وو.

په دې منځ کې مجاهدینو د نظامي برې کوښښونه وکړل، او سره له دې چې کونړ او خوست ولایتونه یې ونیول، خو د ټول هېواد په نیولو بریالي نه شول او د جلال آباد په جګړه کې د ناکامۍ په شان ښېښو په نتیجه کې هم د خلق دموکراتیک ګوند زیاتره غړي او هم زیاتره مجاهدین یعنې ټول مهم لوري دې نتیجې ته ورسېدل چې پر ټولو لورو د یو لوري نظامي بری ممکن نه دی.

بالاخره زیاتره مطرح لوري د ملګرو ملتونو د سولې پلان په چوکاټ کې راضي شول چې نجیب الله به واک، له بې طرفه او نیکنومه کادرونو جوړ یوه موقت حکومت ته وسپاري او هغوی به په شپږو میاشتو کې ټاکنو ته زمینه جوړه کړي.

په دې وخت کې په پېښور کې میشت د مجاهدینو اووه پیاوړي تنظیمونه، په ایران کې د اته تنظیمونو یو اتحاد، په نورو هېوادونو کې خواره واره ګوندونه او ډلې او د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند چې د وطن ګوند په نوم راڅرګند شوی وو، موجود وو چې هر یو د کافي زور او نفوذ خاوندان وو، او یوازنی شریک ټکی یې داوو چې ټول له جګړې ستړي شوي وو. په دې وخت کې د ټولو ډلو په منځ کې لاندې درې قوتونه پیاوړي وو:

1) د نجیب الله په مشرۍ لوی او پراخ دولت، چې تر یو میلیون اردو، پولیس، ملي امنیت، ګوندي غړي، او ملیشه یې ځواکونه یې لرل.

2) ګلبدین حکمتیار چې له هماغې ځوانۍ د اسلامي حرکت یو فعال غړی او د حزب اسلامي د پیاوړي تنظیم مشر وو، چې تر ټولو ډېرې نظامي جبهې او افغانستان شموله حضور یې درلوده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

3) احمد شاه مسعود چي ځيني ستراتيژيک ځايونه، ځينو مهمو هېوادونو سره اړيکي او د خلق ګوند/ د پرچم څانګي په منځ کي يي زيات نفوذي ملګري درلودل.
له دغو دري قوتونو دوه لومړيو يي دا ومنله چي د ملګرو ملتونو د سولي د پلان سره سم دې واک يوې بې‌طرفه شورا ته ورکړل شي چي په شپږو مياشتو کي واک منتخب حکومت ته انتقال کړي، خو دريم لوری د سولي طرحي منلو ته حاضر نه شو، ځکه دوی په اردو او استخباراتو کي بر لاس درلود او نه يي غوښتل لاس ته ورغلي وسلي او واک پرېږدي. نجيب الله په دې پوه شو او خپلو جنرالانو ته وويل چي يوازې نوموړی ترې ځي، بې‌طرفه حکومت په خپل جيب کي کومه اردو نه راوړي، او دغه ټول جنرالان به ورسره وي، خو پام دې وکړي چي کومه خرابي او کودتا ونه کړي، ځکه په دې سره به نه دوی وي او نه به يي ګوند، او افغانستان به د ستري تباهي او سقوط لور ته لاړ شي.
که څه د ګلبدين حکمتيار په شمول ټولو پيښور ميشته مجاهدينو هم دغه طرحه ومنله، خو احمد شاه مسعود او برهان الدين رباني د خلق دموکراتيک ګوند د پرچم له څانګي سره د هغې د سبوتاژ لپاره د جوړ کړي پلان په عملي کولو پيل وکړ چي نظامي واک په خپلو لاسونو کي ونيسي او نورو ته ماموريتونه ورکړي. ګلبدين حکمتيار له جمعيت اسلامي سره په دې بديل هم خبري وکړې چي که د سولي طرحه د تطبيق وړ نه وي، نو بيا دې جمعيت اسلامي په يواړخيز ډول د نظامي انتقال کوښښ نه کوي، بلکي له حزب اسلامي سره دې په ګډه داسي اقدام وکړي چي لږ تر لږه ثبات رامنځ ته کړي، او وروسته نورو مجاهدينو او غير مجاهدينو ته د سياسي مشارکت امکان ورکړي. سره له دې چي جمعيت اسلامي ظاهراً دا ومنله، خو په عمل کي يي (د دوستم په شمول) له پرچم او حزب وحدت سره په تفاهم په يو اړخيز ډول نظامي قطعات دې ډلو ته رااړول پيل کړل او نور يي ليرې او بې برخي وساتل.
په ښکاره امريکا، روسيي او سيمه ايزو لوبغاړو د ملګرو ملتونو د سولي له طرحي سره موافقت ښوده، خو په پټه يي د سولي پلان نه خوښاوه او د هغه د سبوتاژ او ناکامی لپاره سره يو شوي وو. امريکا چي له ګلبدين حکمتيار څخه مايوسه شوې وه، پوهيده چي بل بديل احمد شاه مسعود دی، سره له دې چي هغه د شوروي دوست وو، خو امريکا ته په دغه مرحله کي د منلو وړ وو. شوروي هم غوښتل چي د دوی په ګاونډ کي يا د دوی دوست او تر اغېز لاندې حکومت وي او يا دومره کمزوری حکومت وي چي دوی ته ضرر ونه شي رسولای. ايران او پاکستان هم سلا شوي وو، چي بايد په افغانستان کي کمزوری حکومت وي. دوی محاسبه کړې وه چي که د نجيب الله د حکومت او مجاهدينو ټولي وسلي او تجهيزات پخپل ځای پاتي شي، د ايران او پاکستان تر مجموعي امکاناتو زياتېږي. که په جګړه کي د افغانانو روزنه او تجربه او د ملت طبيعي پوټنشيل، له سختي، غرنی او نه تسخيرېدونکي جغرافيي سره يو ځای شي، نو افغانستان په يو پياوړي قوت بدلېږي.
د همدي لپاره شوروي، امريکا او سيمي پټ سازش وکړ چي د ملګرو ملتونو د سولي د پلان په نوم ملت او ډلي مصروف وساتل شي او واک احمد شاه مسعود ته ولېږدول شي. په دې برخه کي د روسيي محاسبه دا وه چي که مسعود حکومت ټينګ کړ، د دوی د دوست په توګه به د روسيي جنوبي سرحدونه امن وي، او که ترې نظام چور شو، بيا به کمزری نظام دوی ته هغسي خطر نه وي، لکه يو متحد او روغ نظام. په عين وخت کي به داخلي جګړه له افغان ملت څخه د شوروي د ماتي بدل هم واخلي. د امريکا محاسبه ممکن دا وه چي احمد شاه مسعود نظام نه شي ساتلی؛ جغرافيه او ولس يي کم دی، ژر محاصره کېږي او وسلي او تجهيزات ترې نور مجاهدين چور کولی شي.
هماغسي وشول، روسيي د کارمل ډلي ته امر وکړ چي قطعات ورو ورو په روغ و جوړ ډول احمد شاه مسعود ته وسپاري. دا کار د مومن اندرابي او عبدالرشيد دوستم په بغاوت پيل او د شمال، سالنګ، جبل سراج، پروان، بګرام او کابل ګارنيزيون په داسي سقوط منجر شو چي خپلي لور ته د ډاکتر نجيب الله د يو ليک له مخي يکي د يو فرد پوزه هم پکي ويني نه شوه).
خو دا د پيښو پای نه وو، بلکي پيل يي وو. دغسي د واک انحصاري نيول نورو مجاهدينو او په ځانګړي ډول ګلبدين حکمتيار ته چي د جهاد پر مهال تر ټولو مطرح شخص و او تر ټولو پياوړې ډله يي درلوده د منلو وړ نه وو. ګلبدين حکمتيار د احمد شاه مسعود د واک انحصار چلنج کړ او په کابل کي داخلي جګړې پيل شوې. احمد شاه مسعود هم پوخوالی ونه ښوده، او خپل زياتره متحدين په ځانګړي ډول غير تاجيک ځواکونه لکه دوستم او مزاري يي خفه او د ګلبدين حکمتيار لوري ته په ورتګ مجبور کړل. په دې جګړو کي د کابل ښار وران او د هېواد ملکي او نظامی نظام په کامله توګه ړنګ شو.
د کابل په جګړو کي ښکيل لوري تر اوسه خپله پړه نه مني، په ځانګړي ډول هغوی چي تر ټولو ډېري سيمي تباه کړي دي، تر ټولو د زياتي اتلولی ادعا کوي او ټول مسؤوليت پر خپلو حريفانو اچوي. د ملګرو ملتونو پر طرح کودتا افتحار ګڼي. له خپلي ډلي د شوروي ايران او نورو هېوادونو ملاتړ پټوي، خو خپل حريفان د ايران او پاکستان او نورو سره په اړيکو تورنوي. زياتره دغو جګړو ته عدالت خواهانه جنګونه هم وايي، او دغه بدترين جنايتونه توجيه کوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دا ستونزمنه ده چې مونږ دلته ملامت او سلامت وټاکو او بيا يې په ګوته کړو، خو که د اشخاصو او ډلو له مسؤوليت، ملامتی او يا سلامتی تېر شوو او دې ته راشو چې دغو تکرونو او اعمالو ملت، هېواد او تاريخ ته کومې نتيجې راوړې دي، په لاندې ډول يې بررسي کولی شوو:

**د ملي ګټو په رڼا کې د ۱۳۷۱ کال د ثور د اتمې پېښو د نتيجو ارزونه: د ۱۳۷۱ د ثور له اتمې، د ۱۳۷۵میزان ۶ پورې (څلور کاله او ۶ مياشتې).**

**امنيتي ملي ګټې**

- د هېواد بقا د تجزيې له خطر سره مخ شوه.
- خاوره واحده او ظاهراً د خپلواکۍ او جهاد د برې تمثيل وشو، خو عملاً هېواد د جنګي ډلو تر منځ تقسيم او نظامي ملوک‌الطوايفی (قوماندان سالاری) ته لاړ.
- ملي حاکميت وپاشل شو.
- د هيچا سر و مال امن نه وو. په لسګونو زرو کابليان او همدومره نور هېوادوال ووژل شول.
- د سلو کلونو جوړه شوې پوځي وړتيا له منځه لاړه. د زرګونو ځمکنيو نظامي وسايلو او سلګونو الوتکو لرونکې اردو او د درې سوه کلونو ملکي نظام چور شو.
- کابل ښار په کنډواله بدل شو. د جلال آباد، هرات، مزار او شبرغان په شان له ځينو استثناآتو پرته نور ښارونه هم د ورانېدو په حال کې وو.

**سياسي ملي ګټې**

- داخلي وفاداری ژر ژر بدلېدې، هرې ډلې له بېلابېلو هېوادونو سره پټې او غير مرموزې اړيکې ټينګولې.
- قانون حاکم نه وو، بلکې په هره کوڅه او هره سيمه کې زورواکان حاکم وو، چې د قانون څه چې د خپلو مشرانو امر يې هم نه مانه.
- بهرينو هېوادونو د مرستو دفترونه وتړل. ملګرو ملتونو حد اقلي حضور له نورو هېوادونو تمثليوه.
- د هېواد منابع تالا شوې، امنيت له منځه ولاړ.

**اقتصادي ملي ګټې**

- د اقتصاد ټولې زيربناوې ړنګې شوې، فابريکې او وسايل يې کباړ او تالا شول.
- فقر او ولږه سراسري شوه. کابل ښار ته د غذايي موادو تلل بند شول. توليد ودريد.
- تخنيک، علم او پرمختګ او نوښت ته کومه ځانګړې نه پاملرنه وشوه او نه يې فرصت برابر شو.

**ټولنيزې او فرهنګي ملي ګټې**

- د دين او ټولنيزو ارزښتونو د ساتنې خبرې پيل شوې، خو عملاً د مذهبي، قومي، او سيمه ايزو تعصباتو، جګړو او اختلافونو اورونه بل شول.
- ټولنيز انسجام ړنګ شو، عدالت تأمين نه شو، او هوساينه په يو نه تعبيريدونکي خوب بدله شوه.
- د تېر نظام ملکي او نظامي کارکوونکو ته عمومي عفو اعلان شوه او د محدودو انتقامي پېښو پرته عملي شوه.
- د خلکو ژوند، مال، عزت، ازادي، فکر، نظر او بل هيڅ حق خوندي نه وو.
- پوهنتونونه او ښوونځي په زياتره سيمو کې تړلي وو. په پروان، مزار، او شمالي ولايتونو کې تر يوه بريده خلاص وو. که په ځينو سيمو او ځينو وختونو کې به خلاص هم شوو، انقطاع پکې راتله.
- کتابتونونه، ملي موزيم او زياتره فرهنګي بنسټوه او اثار چور شول.

چاپيرياِل وران او د بارونو او کباړ په ډيران بدل شو.

د دې درې پيښو د نتيجو معلوميږي چې:

1. افغانستان ته تر ټولو زيات تاوان د جدي شپږمې اړولی دی، ځکه هم پکې تر ټولو ارزښتمنه پانګه يعني انسانان تر هرې بلې دورې زيات وژل شوي دي، هم د هېواد خپلواکي سلب شوې وه، هم تر ټولو زيات هېوادوال له هېواده وتلو ته اړ شوي وو او هم تر ټولو زيات کلي وران شوي وو. پر دغو تباهيو سربېره هېواد د بهرنيو ځواکونو تر اشغال لاندې وو. په دې دوره کې د ملي نفاق تخم هم وکرل شو.

2. د ثور اتمې هم نه باوريدونکي زياته تباهي رامنځ ته کړې ده. د درې سوو کلونو نظام او اردو چور شول. کابل ښار وران شو. لارې ناامنه شوې. قومي، سيمه ييزه، ډله ايز او فکر تعصبات اوج ته ورسيدل او افغانستان په داسې حال کې بلې فاجعې ته وغورځېده چې د ملګرو ملتونو د سولې طرحې له مخې د يو سوله ايز حل چانس موجود وو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

3. د ثور اوومې هم تاوان اړولی دی، خو دا چې موده يې کمه وه. البته د ثور اوومه د سرطان د ۲۶ مې په شان د تباهۍ د پيل مسؤوله هم ده، او بايد درسونه يې ثبت شي.

البته هرې دورې به څه مثبت اړخونه هم درلودل، چې تر ضررونو يې په مراتبو کم دي او په جدول کې منعکس شوي دي.
البته د دې پېښو يادول بايد تر ډېره بريده د درس اخيستو لپاره مهم دي. اوس بايد زموږ تمرکز په همدې وي، چې دې دورو درسونه څنګه په صبر، حوصله او بې طرفۍ مشخصولی او په راتلونکې کې د هغه د تکرار د مخنيوي لپاره وړانديزونه تيارولی شوو.

**وروستۍ خبره:**
د افغانستان د وروستيو پنځو لسيزو بحراني حالت يوازې د يوې ځانګړې پيښې يا اشتباه پايله نه وه، بلکې د قدرت د تاريخي دوراني طبيعت، د کورنيو سياسي، ګروپي او مذهبي تضادونو، د نړيوال سياست د رقابتونو، او د داخلي ادارو د کمزورۍ يوه مرکبه نتيجه وه. که چېرې د دغو سببونو ژوره پوهه رامنځته شي، او د تحليل له لارې رښتيني اصلاحات پيل شي، نو راتلونکی نسل به د ثبات، سوکالۍ او ملت جوړونې نوې لارې ومومي.

**څلورمه برخه: د افغانستان له پنځوس کلن بحران څخه کوم درسونه اخيستلای شوو؟**
دا پوښتنه ډېره ژوره، مهمه او د فکر وړ ده، چې په سره سينه ورته ځواب ميندل ضرور دی. د افغانستان تېرو پنځو لسيزو پېښو، په ځانګړې ډول له ثور کودتا وروسته، موږ ته ډېر مهم تاريخي، سياسي، ټولنيز او بين‌المللي درسونه را زده کړل. دا درسونه که سم وپيژندل شي، کولی شي زموږ راتلونکی نسلونه له ورته تېروتنو وژغوري، او د يو سوله ايز، سوکاله او پرمختللي افغانستان پر لور دروازې خلاصې کړي. مهمه وينا ده چې څوک له تاريخه زده کړه نه کوي، هغوی تاريخ بيا بيا تکراروي. دلته د تېرو ۵۰ کلونو د بحران څو مهم درسونه د دې لپاره ذکر کوو، چې منفي اړخونه يې بيا تکرار نه کړو، او له مثبتو يې لا زياته استفاده وکړو:

**1) سياسي نفاق، د ملتونو زوال ته لار هواروي**
تر بهرني فکتور تل داخلي انسجام، يووالی او پر يو ملي روايت راټوليدل مهم دي. بهرني ځواکونه د خپلو اهدافو د حصول لپاره د هدف وړ هېواد په منځ کې د نفاق اور ته لمن وهي. د هېواد خپل خلک او مطرح اشخاص او قشرونه هم په دې کې رول لري او که دقت ونه کړي او اختلاف نه کنټرولېدونکي او نه پخلاکېدونکي سطحې ته ورسوي، نو مجبوريږي چې بهرنيو يرغلګرو ته د خپل کور دروازې خلاصې کړي.
د خلق او پرچم ترمنځ اختلافونه، د مجاهدينو ترمنځ جنګونه، د طالبانو او متحدې جبهې ټکرونه، او د جمهوري نظام دننه رقابتونه، ټول د کورنيو جګړو، بې باوريو او ستونزو سرچينې وې. دې نفاقونو بهرنيانو ته زمينه برابره کړه چې پر افغانستان يرغل وکړي او د څه مودې لپاره پرې حاکم شي، يا لږ تر لږه د افغان ولس سره په جګړو کې ونښلي.
سياسي اختلاف تر يوه بريده حتمي او طبيعي دی، خو بايد د حل لپاره يې د انقلاب او ريفورم تر منځ معقول انتخاب وشي. تېرو تجربو وښودله چې تدريجي اصلاحات، د کلتوري حساسيتونو په پام کې نيول تر کودتاګانو او انقلابونو په مراتبو بهتر او بې ضرره يا لږ تر لږه کم ضرره وو.
د تېرو ځانغوښتونکو تجربو د نه تکرار لپاره بايد سياسي مشران او فعالان د فردي، ډله ايزو او ملي ګټو د تحليل پر بنسټ دقيق انتخاب وکړي. لنډمهاله فردي او ډله ايز برې او اوږدمهاله ګټې وپيژني، موازنه يې کړي او داسې يې په نظر کې ونيسي چې د سترو زيانونو تر اړولو عقب نشيني کول او منتظر پاتې کېدل غوره دي.
تاريخي درس دا دی چې که افغانان د خپل او پردي تفکيک نه کوي، بهرنيان نه پيژني، او په خپلو منځونو کې د ستونزو حل نه پيدا کوي، نور به يې پر سر سودا او يا پرې بريد کوي؛ هم به يې هېواد ورانوي او استحصالوي او هم به دوی په نيمايي لار کې پرېږدي. نو، د افغانستان د جوړولو لپاره ملي يووالی، زغم، او ګډ کار ضروري دی.

**2) د ولس له ارادې او داخلي ټولنيز انسجام پرته نظامونه تر ډېره نه پاتې کيږي**
افغانان بايد په خپلو ارزښتونو کې د ټولنې او هېواد د نجات لارې ولټوي او ويې مومي. د نورو د نظرياتو، پېښو (حوادثو) او تاريخونو لوستل، د خپلو ارزښتونو په ظرف کې حلول او د نوي حاصل په توګه وړاندې کول، ښه کار دی، خو د کاپۍ او پيست د بدو تجربو له تکراره بايد مخنيوی وشي.د يوه هېواد د بقا، پرمختګ او اعتلا لپاره داخلي انسجام تر هر څه مهم دی. په هر هېواد کې اغيزناک ګروپونه او شخصيتونه دي، چې تر منځ يې انسجام او يووالي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د دغه ملت د بقا، او اختلاف يې د تباهی سبب کېږي. سیاسي مشرانو او فعالینو ته ښايي چې خپله ټولنه او اغیزناک قشرونه يې وپېژني. په افغانستان کې د ملا یا روحاني مشر، ملک یا قومي مشر او دولت تر منځ انسجام ټل د ملت له اتحاد او په نتیجه کې د نظام د بقاء او هېواد د امنیت او ثبات سبب شوی دی. اوس له دې درې ګروپونو سره د ښوونځي او پوهنځي فارغان، مدني ټولنې او میرمنې هم د ښاري منځنې قشر په توګه ملګري شوي او د اغیز خاوند شوي دي. دې قشرونو او ټول ملت ته درناوی، نظر او حضور يې په پام کې نیول او قناعت يې حاصلول د ملي ثبات او ټولنیز انسجام سبب کېږي.
د خلق ګوند رژیم، د خپلو غړو له تېنګې ژمنې او د شوروي له ملاتړ سره سره، د ولس له خوا ونه منل شو، ځکه دوی دا اغیزناک ګروپونه قانع نه کړای شول. د طالبانو تېر نظام، که څه هم نظم يې درلود او امنیت يې تامین کړ، خو د ټول ملت د ارادې استازیتوب يې ونه شو کولی؛ په نتیجه کې يې مخالفینو د بهرنیانو راوستلو ته زړه ښه کړ، خو دوی ته تسلیم نه شول. د جمهوریت نظام هم، له ډېرو بهرنیو مرستو سره سره، له فساد او بې‌عدالتیو ډک وو او له همدې امله، یې د ولس ریښتینی ملاتړ تر لاسه نکړای شو.
داخلي رقابتونه په ټولنو کې طبیعي دي، خو هوښیار سیاسیون او مشران ورته پیشبین وي او مخه يې نیسي. په تاریخ کې د پلرونو او زامنو، ورونو، تربورانو، حریفانو او مخالفینو د ټکرونو، توطیو او خیانتونو بېلګې کمې نه دي. د دې لپاره د عدالت او شمولیت په څنګ کې ټینګ قوانین او امنیتي او مخه نیوونکي ارګانونه هم ضرور دي.
تاریخي درس دا دی چې نظام باید د ولس د ارادې او ګډون استازیتوب وکړي، د ټولنې مطرح او اغیزناک قشرونه له پامه ونه غورځوي. په عین حال کې د تخریب هستې تر تشکل مخکې خنثی کړي، د ناراضو ګرپونو رضایت حاصل او حقوق يې اعاده کړي. که نه وي، نو د دغسې نظام سقوط حتمي دی.

### 3) زده‌کړه، سیاسي شعور او مدني پوهاوی ضروري دي
د بې‌سوادی، افراطیت، قومي تعصب، او دسیسې د منلو له امله ملت تېر ایستل شو. د خلکو له حقیقي مشارکت پرته، یوازې مشران نه شي کولی ټولنه بدله کړي. باید ولس خبر شي، پوهنه او معلومات زیات شي، تر څو ملتونه خپل دوستان او مخالفین وپېژني او د ساده او ښکلو شعارونو قرباني نه شي.
په ښوونه او روزنه تمرکز او پانګونه د اوږدمهال او دایمي ثبات کیلي ده. د تېرو دردناکو تجربو له ناکامیو او زموږ او ټول بشریت له مثبتو تجربو نوي نسل ته درسونه جوړول او پرې روزل ضرور دي، چې تېرې ناکامې تجربې تکرار نه کړي. د یو ملي او ټولشموله روایت تعریف، بنسټیز کول او پر مخ وړل. علم، مهارت، ارزښتونه او د قابلیتونو روزل او تعمیمول د تېرو فاجعو د تکرار مخنیوی کولی شي.
تاریخي درس دا دی چې ښوونه، د فکر ازادي، انتقادي تحلیل، او د ملي ګټو د پېژندو شعور باید په ټولنه کې عام شي.

### 4) د بې‌عدالتي، فساد، انحصار او امتیاز پر بنیاد نظامونه تل کمزوري وي
که هر نظام د واسطو، قومي تعصب، انحصار، یا فساد پر بنسټ ولاړ وي، خلکو ته تر ډېره د منلو وړ نه پاتې کېږي، او دوام نه شي کولی.
ټولنیز عدالت او ملي روایت جوړول او بنسټیز کول د هر نظام اساسي دنده ده. دولت باید د ثبات یو محور جوړ کړي، هر افغان ته مساوي فرصتونه او خدمات برابر کړي، ځانګړو ګروپونو او سیمو ته ځانګړې توجه وکړي.
ټولو وګړو ته د ښاروندی د یو فرد یوه رایه پر اساس مساوي حقوق ورکړي. د فکر، بیان، اجتماع او اشتراک او نور بشري حقوق ومني او عملي کړي.
تاریخي درس دا دی چې عدالت، شفافیت، او شایسته‌سالاري د پایدارو نظامونو بنسټ دی. باید کار اهل ته وسپارل شي، ښاروندي مساوات او عادلانه خدمات ټولو اړوندو اشخاصو، ډلو، ګروپونو او سیمو ته وړاندې شي.

### 5) د افغانستان موقعیت د سترو نړیوالو لوبو قرباني کېږي
افغانستان په یوه ستراتیژیکه جغرافیه کې پروت دی، چې د بهرني سیاست بې توازني يې د سترو قوتونو او سیمې ویره راپاروي. د سړې جګړې پر مهال، او وروسته د تروریزم ضد په نوم جګړو کې، افغانستان د نړیوالو ځواکونو د رقابت میدان وګرځېد، قرباني افغانان شول او رقابتونه زبرځواکونو او سیمه ایزو حریفانو وپالل.زموږ د ځمکې موقعیت، باید د بهرنیانو د ګټو لپاره میدان، نه بلکې د ملتونو تر منځ د اتصال او نږدې والی لاره او خپلو خلکو د هوساینې زمینه وګڼل شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تاریخي درس دا دی چې افغانستان باید خپل موقعیت د «اقتصادي، ترانزیتي او سیاسي پل» په توګه وکاروي، نه د جګړې د میدان په توګه.

**6) ایډیولوژي باید د انسان او ملت د فلاح لپاره وي، نه د زور، ځپلو او تحمیل لپاره**

که مارکسیزم وي، که د دین په نوم سیاست وي، او که ملي‌ګرایي وي، او یا بله هره ایډیولوژي وي، خو چې افراطي بڼه ونیسي، د خلکو پر ذهن او ژوند تحمیل شي، په زور یې د تطبیق هڅه وشي، او د نورو د انتقاد او مخالفت حق ونه منل شي، نتیجه یې فاجعه ده. خلقیانو او پرچمیانو د کمونیزم د ایډیالوژۍ پر بنسټ د ولس او ټولنې پرمختګ او اصلاح غوښتله، خو د زور، قتل، او جبر له لارې یې د خپلو پروګرامونو تطبیق پیل کړ، چې د ټکر او مقاومت سره مخ شول. مجاهدینو هم افراط او انحصار ته مخه کړه، طالبان هم د شرعي نظام تر نامه لاندې پر ټول ملت د دین یو خاص تفسیر تپي. نورو ته د خبرو، نظر او مشارکت حق نه ورکوي او ځکه یې ونه شول کولی د ملت رضایت تر لاسه کړي.

تاریخي درس یې دا دی چې ایډیولوژي باید په ولس کې د زړه له کومې قبوله شي، د زغم، بحث، او عقل له لارې ومنل شي، او په خوښه تطبیق شي، نه د توپ او ټوپک له لارې.

**7) د رهبرۍ نشتون یا ناسمه او ټول عمري رهبري د ملتونو بربادي راولي**

افغانستان د بحرانونو پر وخت د داسې مشرانو له کمښت سره مخ و، چې واقعي، هوښیار، ملي او اوږد مهاله لید ولري. د تېرو لسیزو ډېرى مشران یا د پردیو د اجنډاوو تابع وو، یا د واک، شهرت او امتیازونو تږي وو، یا یې له ښه نیت سره سره د ولس د رضایت او هېواد د اداري هنر او توان نه درلود، او ځکه د فاجعو سبب شول.

بله مهمه موضوع دا ده چې د مشرۍ او واک د لېږد واضح میکانیزمونه هم په ګوندونو او هم په حکومتونو کې ضرور دي. که شاهي نظام په واقعي معنی مشروطه شوی وای، او د محمد داود په ګډون یکې هر افغان ته د اشتراک فرصت برابر وای، ممکن کودتا ته اړتیا نه وای پیدا شوې. همدا راز که د خلق دموکراتیک ګوند او اسلامي نهضت د مشر د ټاکلو ډول، موده او بل مشر ته د مشرۍ د انتقال واضح او ډاډمن میکانیزم درلودای، دومره زیات انشعابونه او نفاقونه به یکې نه راتلای.

تاریخي درس دا دی چې ملت باید د خپلو رهبرانو په ټاکنه کې ژور فکر وکړي، د رهبرۍ معیارونه د وفادارۍ، فداکارۍ، هوښیارۍ او ملي احساس پر بنسټ وټاکي، نه د قوم، ژبې، یا شعار پر بنسټ. همدا راز د میراثي او ټول عمري مشرتوب پر ځای دې د لا زیاتو استعدادونو د غوړېدو او ټولو ته د مشرۍ د فرصتونو د هیلو دروازې خلاصې او د توطیې او خدعې او حذف او له منځه وړلو اعمال دې پای ته ورسول شي.

**8) د یووالي او تفاهم نشتوالي، تر جګړو هم ډېر زیان ورساوه**

په تېرو پنځه لسیزو کې موږ کله هم دوامداره، ریښتینې، او ټول‌منلي سولې ته ونه رسېدو. د سولې نوم هر ځل کارېده، خو زیاتره د امتیاز، واک تقسیم، یا د بهرنیانو د ستراتیژیو لپاره و. ریښتینې او تلپاتې سولې ته ژمنه کمه وه او یا نه وه. د ټول‌شموله سولې فرصتونه ضایع شول. د نجیب الله او مجاهدینو تر منځ د سولې له فرصته نیولې، د طالبانو تر سقوطه، بیا راژوندی کېدو او د دوحې تر مذاکراتو پورې.

تاریخي درس یې دا دی چې سوله باید د خلکو تر منځ وي، نه یوازې د ګوندي مشرانو تر منځ. سوله د زړونو، ذهنونو او عدالت ترمنځ توافق ته اړتیا لري، نه یوازې د کاغذ پر مخ لیکلو او امضا ته. په سوله کې باید د راتلونکو بې عدالتیو مخه ونیول شي، د ګډ ژوند په ډول توافق وشي، ټولو اړخونو ته د عزت، پرمختګ او امنیت ډاډ ورکړل شي.

افغانان باید پخپلو کې د ګډ ژوند په اصولو او د واک د نیولو، چلولو او ساتلو په سوله ایز او عادلانه میکانیزم توافق وکړي. کیدای شي د ۱۳۴۳ او ۲۰۰۱ کلونو اساسي قوانین یو څه اصلاح شي او د هغه پر بنسټ افغانان د ګډ ژوند او واک ته رسیدو په میکامیزمونو سره سلا شي. د زر، زور، تزویر، انحصار، استبداد او مزدورۍ تجربې باید نورې تکرار نه شي.

**9) بهرنۍ ځواک د حل لاره نه ده، بلکې د ستونزو د تشدید تر ټولو ستره سرچینه ده**

هغه ځوانان چې غواړي د افغانستان په سیاست او سرنوشت جوړونکو فعالیتونو کې برخه واخلي باید بهرنیان او د هغوی فرمولونه وپېژني. هر هېواد ته خپلې ملي ګټې لومړیتوب لري. له همدې امله لوی یا منځنې بهرنې هېوادونه او قوتونه زیاتره داسې ستراتیژي پلې کوي: لومړی یو غولونکی شعار رامخې ته کوي، بیا د هدف وړ هېواد په منځ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کې یوه ډله یا مهم افراد په نښه کوي، له دوی سره واک ته په رسېدو کې مرسته کوي. واک ته تر رسېدو وروسته یې لومړی له خپل ملت سره دښمن کوي، بیا یې له ګاونډیانو سره ټکروي، د هغه په تعقیب یې له نړۍ منزوي کوي، او بیا چې له هر لوري یوازې شي، خپل ټول شرایط پرې مني او که اړتیا شي پرې یرغل کوي او نیسي یې. په افغانستان کې شوروي اتحاد او نورو هېوادونو له خپلو متحدو افغان ډلو او اشخاصو سره دغسې او یا دې ته ورته عمل وکړ.
شوروي اتحاد، امریکا، ناټو، او نور بهرني ځواکونه د خپلو ګټو لپاره افغانستان ته راغلل، نه د افغان ولس د خلاصون لپاره. دوی د خپلو هدفونو د تر لاسه کولو لپاره کله له یوه او کله له بل لوري ملاتړ وکړ، خو له یوه لوري سره هم تر پایه وفادار پاتې نه شول. یوازې خپلو ګټو ته وفادار وو او دي. د دوی مداخلو زموږ لپاره اوږدمهاله ناورین، تباهي، او بېثباتي راوسته، او د وینې تویولو او تباهۍ سبب شول.
تاریخي درس یې دا دی چې هیڅ ملت د باندنۍ مداخلې له لارې نه رغېږي. حل‌لار باید له دننه وي، د هېوادونو د پرمختګ او نجات لپاره د ملتونو خپلواکۍ، خپلواک فکر، او واقعي ملي مشرتابه ته اړتیا ده له بهرنیانو سره اړیکې باید د ملي ګټو په رڼا کې د متقابل باور او درنښت په چوکاټ کې وي.

## **10)** **تاریخ ته نه پاملرنه، د تېروتنو تکرار ته لاره هواروي**

په افغانستان کې هر ځل یوه ډله او د یو فکر پیروان راځي، او وایي چې د هېواد د پرمختیا او خلکو د نیکمرغۍ نوې لاره یې میندلې ده. خو دوی زیاتره له تاریخ زده‌کړه نه کوي، او بیا هم د انحصار، استبداد، زرو، زور او تزویر له لارې د یکه تازۍ او ځانځانۍ په فکر کې وي. له همدې له امله، ورته (مشابه) خطاګانې، ورته جګړې، او ورته بربادۍ بیا بیا تکرارېږي.
درس دا دی چې تاریخ باید ولوستل شي، تحلیل شي، نقد شي، او له هغه نه داسې عقلاني، ملي او ژورې زده‌کړې وشي چې د تېرو تجربو د تکرار مخه ونیول شي، مثبتې تجربې تقویه شي او د اوږدمهاله سولې، ثبات، سوکالۍ او پرمختګ لارې هوارې شي.

**خبرداری**

د شوروي اتحاد د یرغل بدې نتیجې او ضررناکې نتیجې اوس هم په افغانستان کې شته او د نفاق شیندل شوي زهر یې د ملت بدن دردوي! شوروي اتحاد ړنګ شو، خلق و پرچم ډلې له منځه لاړې، خو د شوروي زهر لا هم د افغان ملت په رګونو کې جاري دي.
کله چې د شوروي وروستی جنرال، ګروموف، له حیرتان پله تېرېده، افغانستان ته یې د غوسې او حسرت په سترګو راوکتل. زیاترو فکر کاوه چې هغه افغانانو ته خبرداری ورکوه چې: که شوروي عسکر وځي، په لسګونه زره خښ شوي ماینونه به یې د وژل شویو او شړل شویو عسکرو او بې پته شوي شوروي اتحاد بدل له افغانانو اخلي. خو ګروموف تر دې ډېر ژور وو. هغه پوهېده چې ماینونه به یو ورځ پاک شي، خو هغه زهر چې د قوم، ژبې، سمت، مذهب او تاریخ په نوم دوی د افغانانو په رګونو کې بیچکاري کړې او بدن ته خپاره کړي دي، لسېزې به پاتې وي.
نن هم د شوروي یرغل زیان په افغانستان کې ژوندی دی؛ په عسکري جامو کې نه، بلکې د کرکې، بېباورۍ، او نفاق د زهرو په بڼه، او د ملت د وجود وینې مسمومويي!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ